Supreme Court ستره محکمه
20 May 2025 ·

په کابل ولایت کې اوو مجرمینو او متهمینو ته تعز/یري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې او د ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون جزا دېوان د پرېکړو له مخې؛ د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته د زنا په تور او پنځو کسانو ته د نشه‌يي تابلیتو (ذیکپ، تابلیتk) او چرسو د خرڅلاو، پلور او قاچاق په جرمونو، په ۲۱/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعز/یري سزا ورکړل شوه.

یادو محاکمو دوه متهمین پر دوه ـ دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُرو، پنځه مجرمین له اته میاشتو څخه تر درې کالو پر تنفیذي بند او له ۲۰ څخه پر ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو.

یادې پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو کسانو تطبیق شوې.